
ځوانان باید پر څه پوه شي

# د کار قاچاق او استحصال

## د کار قاچاق څه شی دی؟

د کار قاچاق دا دی چې یو څوک **په زور، درغلۍ، یا وېرولو سره کار ته اړ کړل شي.**


په امریکا کې ډېری کاروړکونکی د کار قاچاق نه کوي، خو د دې نښې پېژندل مهم دي ترڅو ځان او نور وساتئ.



## د خطر 10 نښې

**که څوک...**

- تاسو د کرایې یا نورو کورنیو **لګښتونو ورکولو ته** اړ باسي.
- تاسو د پور خلاصولو لپاره کار ته اړ باسي یا مو پور د کمېدو پر ځای ډېرېږي.
- تاسو د مکتب پر ځای **کار کولو ته اړ باسي.**
- ستاسو تګ راتګ، ځای او له خلکو سره خبرې **کنټرولوي**؛ تاسو له ملګرو او کورنۍ څخه **لرې ساتي.**
- تا یا کورنۍ ته دې د زیان رسولو **ګواښونه ورکوي**، یا وایي که خبره یې وښه منې نو پولیسو یا د کډوالو ادارې ته دې سپاري.
- ستاسو **معاش درباندې بندوي** یا ستاسو له معاش څخه **لګښتونه ګرځوي.**
- تاسو داسې کار ته اړ باسي چې **خطرناکو موادو** یا د **کار خطرناک شرطونو** سره مو مخ کړي.
- ستا پاسپورټ، اسناد، پیسې یا ټلیفون له **ځان سره ساتي.**
- تاسو په خپل **کار ځای کې په ناوړه شرایطو کې ژوند کولو** ته اړ باسي چې ډېری وخت ورسره نور ډېر خلک هم وي
- تاسو اړ باسي چې بې له مناسب معاش، خوراک، څښاک، استراحت او تشناب له وقفې پرته **ډېر وخت** کار وکړئ.



## د کار قاچاق چېرته کيږي؟

د کار قاچاق او زياتی په **ډېرو کارونو او ځايونو** کې رامنځته کېدای شي، لکه:

- غير رسمي يا په نغدو پيسو کار.
- پاک‌کاري، کورنی چاري او د ساتنې او پالنې کارونه.
- د ماشومانو پالنه يا نور ته د پاملرنې کارونه.
- رستورانتونه.
- فارمونه او فابريکې.
- تعميراتي او د باغداری کارونه.

## د انسانانو قاچاقبران څوک دي؟



**د انسانانو قاچاقبران تل خطرناک نه ښکاري.** هغوی کېدای شي کاروركونكی وي، هغه کسان وي چې آنلاين "دنده" وړاندېز کوي، عشقي ملګري وي، ملګري يا همځولي وي، د کورنی غړي وي، يا ناآشنا کسان وي. د انسانانو قاچاقبران ډېر وخت داسې ژمنې کوي چې عملي نه ښکاري، او هڅه کوي چې تاسې، ستاسو پيسې، يا اسناد کنټرول کړي.

ياد ولرئ، **زياتره لويان خوندي وي**، خو د **قاچاق نښې پېژندل** مهم دي څو ځان وساتئ.

## تاسو څنګه مرسته ترلاسه کولی شئ که تاسو يا مو اشنا کس د کار قاچاق په حالت کې وي؟



**تاسو حقونه لرئ،** او که دا حقونه درڅخه واخيستل شي، نو دا هغه کارونه دي چې تاسو يې کولی شئ.

- **د باور مشر** سره خبرې وکړه.
- د بېړني حالت پر وخت يا که څوک درسره بد خوی يا زياتی کوي، ځايي **پوليسو** يا **911** ته زنګ ووهئ.
- د انساني قاچاق د مخنيوي ملي شمېره (National Human Trafficking Hotline) سره اړيکه ونيسئ. دوی 24/7 پرانيستي دي.

**ټليفون:** 1-888-373-7888    **متني پيغام:** 233733

**ژوندی چټ:** https://humantraffickinghotline.org/en/chat

refugees.org

The production of this material was supported by Grant #90RB0054 from the Administration for Children and Families (ACF). Its contents are solely the responsibility of the U.S. Committee for Refugees and Immigrants (USCRI) and do not necessarily represent the official views of ACF.

U.S. COMMITTEE FOR REFUGEES AND IMMIGRANTS